# پرېکړه

Ursula Nafula
Vusi Malindi
Zahidullah Abid
2
پښتو ps

زما په کلي کې ډېرې ستونزې وې. مورږ به د يوه نل څخه د اوبو راوړلو لپاره په اوږد قطار کې درېدلو.

موږ به د هغو خواړو لپاره په تمه وو چې خلکو به خیراتولو.

مورږ به د غلو له ډاره د خپلو کورونو دروازې وختي تړلې.

ډېرو ماشومانو ښوونځي پرېښودل.

پېغلو نجونو به په نورو کلیو کې د خدمتګارانو په توګه کار کوه؟.

ځوانان هلکان به په کلي کې وزګار ګرځېدل، او نورو به د پردیو په کروندو کې کار کولو.

کله به چې باد لګېده، بې کاره او اضافه کاغذونه به په ونو او ښاخونو کې بندېدل.

خلک به د هغو ماتو شوو او بې ځایه غورځول شوو ښیښو
له امله چې د نورو لخوا په ډېره بې احتیاطۍ سره پر ځمکه
اچول شوي و، ژوبلېدل او زخمي کېدل.

يوه ورځ ياد نل وچ شو او زموږ د اوبو لوښي او بيلرونه
خالي شول.

زما پلار کور پہ کور وګرځېده او له خلکو یې وغوښتل چې د کلي اړوند غونډه کې ګډون وکړي.

خلک د یوې لویې ونې لاندې راټول شول.

زما پلار ودرېد او ویې ویل، “موږ باید د خپلو ستونزو د حل لپاره په ګډه کار وکړو.”

اته کلن جمعه ګل چې د ونې په ډډه ناست و، ناري کړې،
“زه د کلي په پاکولو کې مرسته کولی شم.”

يوې ميرمنې راغږ کړ: “ښځې کولی شي زما سره يوځای شي ترڅو خوراکي شيان وکړو.”

یو بل سړی ودریدلو او ویې ویل: “سړیان به په ګډه سره یوه څاه وکیني.”

موږ ټولو په یوه غږ چیغې کړې، “موږ باید خپل ژوند بدل کړو.” له هغې ورځې راپدېخوا موږ د خپلو ستونزو د حل لپاره په ګډه کار کوو.

# Global Storybooks

globalstorybooks.net

## پریکړه

Ursula Nafula
Vusi Malindi
Zahidullah Abid

CC BY